ليکونکی: عتيق پاڅون ۲۰۱۰\۷\۳۰

# د افغانستان اوسني حالت ته يوه هر اړخيزه کتنه

## سياسی حالت:

په هيواد کې سياسی وضعه ډيره بی ثباته آو د اطمينان وړ نـه ده. د هيواد خارجی سياست د بهرنيانو آو مخصوصاً امريکاييانو تر کنترول لاندې ده، په داخلی وضعه باندې په مجموع کې اسلامی احزاب، او بـه تيره بيا د برهان ا لدين ربانی متحده ملی جبهه آو د نظارشورا حاکميت لري، هغه سيمې چه د طالبانو تر کنترول لاندې دي هلته د هغوی حاکميت آو قوانين چليږي. عام خلک له وضعې نه زښته زيات ناراضه آو له دوامداره جنګ، مرګ ژوبلې آو خرابيو سره ډير په تکليف دي.

(د پارالمان د انتخاباتو په درشل کې د افغانستان په تلويزيون کې يو خبر خپور شو چه د افغانستان جمهور رييس حامد کرزی د راتلونکو پارالمانی ټاکنو له پاره د مجاهدينو له مشرانو سره مشوره و کړه آو د دې مشرانو نومونه يې په ډير درناوښت سره واخستل لکه «پروفيسور استاد عبدالرب رسول سياف»، «حضرت نورالمشايخ صبغت اله مجددی»، «پير سيد احمد ګيلانی»، «پروفيسور استاد برهان الدين ربانی»......... څرنګه چه هيوادوال له دې ساخته ګی رهبرانو نه د دوی د اعمالو له امله ډيره کرکه لري نو دوی له کرزی صاحب نه ډير خفه آو نا اميده شول).

له د باندې نه زمونږ دوه ګاونډيان ايران آو مخصوصاً پاکستان زمونږ د هيواد په د ننني چارو کې ډيره زياته لاسوهنه کوي. پاکستان له يوې خوا طالبانو ته نظامي روزنه، پيسې، وسلې آو جنګي وسايل ور کوي آو هغوی په افغانستان کې جنګ آو ورانکاری ته هڅوي آو کوشش کوي چه جنګ په افغانستان کې تازه آو دوامداره و ساتي، له بلې خوا د افغانستان له جنګه دا ده دا څو لسيزې سياسی، نظامی، استراتيژيکه آو اقتصادي ګټه پور ته کوي يعنی د افغانستان په جنګ باندې ډير ښه تجارت کوي آو د عوامو په اصطلاح د افغانانو کورنی جنګ د پنجابيانو د پاره عجيبه يوه ښه «ګاو شيری» ده آو هغه يی په هيڅ صورت له لاسه نه ور کوي. پاکستان له امريکا نه د افغانستان د جنګ په پلمه په مليونونو ډالره تر لاسه کوي آو په دې وروستيو کې يی يوه بله دوه اړخيزه لوبه هم پيل کړې ده هغه دا چه د پيسو په بدل کې د طالبانو لوړ پولي قوماندانان آو د تمرکز آو قوماندې مرکزونه امريکايی چارواکو ته ورپه ګوته کوي څو يی هغه بمبارد آو نا بود کړي.

افغانانو آو افغان دولت به چه هر څه چيغې وهلې چه طالبان په پاکستان کې روزل کيږي، هغه يې تمويلوي آو زمونږ هيواد ته يې جنګ ته را ليږي، امريکا چه په دې واقعيتونو له مونږ نه لا ښه پوهيده په هيڅ صورت يې په هغو اعتراف نه کاوه ترهغو چه د دوی يوې خپلې انترنتی شبکې دا ټول واقعيتونه افشأ نه کړل.

افغانستان چه خپل لاس آو پښې يې د ديورند په موافقه ليک سره تړلي دي آو له اقتصادی مخصوصاً تجارتی نظره په دواړو ايران آو پاکستان پورې تړښت لري هيڅ هم نه شي کولی. له بلې خوا پاکستانی حاکمه حلقاتو آو مخصوصاً استخباراتو د پښتونستان په ټولو سيمو کې په تصنعی شکل د طالبانو تحريک په وجود را وستلی تر څو د پښتنو په سيمو کې د بشپړ کنترول د تأمينولو په منظورد نظامی عملياتو د پر مخته بوولو د پاره آزاد لاس و لري. د دوی نهايی هدف دا ده چه په پښتنو کې د ملی مقاومت آو خپلواکی روحيه کاملاً له بينه بوځي آو د پښتنو په سيمو کې عام آو تام حاکميت تامين کړي.

په ايران کې د افغان کډوالو د بند آو ډير نا روا آو وحشيانه وژنې موضوع افشا شوه چه د ايران آخُندانو په کلونو کلونو افغان بيچاره آو بيګناه کډوال وژل آو وژلی يی وه. خلکو په پلازمينه کابل کې په دې اړوند زياتې مظاهرې و کړې آو له افغان دولت نه يی د خپلو اتباعو د ژوند آو حقوقو د اعادې آو ساتنې غوښتنه و کړه.

مګر اصلی واقعيت دا ده چه افغانان له يوې خوا فقير آو بې وزلی دي آو له بلې خوا بې علمه، بې سواده آو بې پوهې، په خپلو کې سره بې اتفاقه آو په جنګ کې اخته دي، لکه څرنګه چه مخکې مو اشاره ور ته و کړه د ديورند د کرښې له امله له اقتصادی نظره په ګاونډيانو پورې تړلي دي نو تر هغو چه مونږ له دې لعنتي کرښې ځان خلاص نه کړو آو آزاده اوبو ته لار خلاصه نه کړو هغه دواړه (ايران آو پاکستان) آو نوربه هرو مرو همداسې کوي آو و به يی کوي.

## اقتصادی وضعه:

په هيواد کې فقر، بد بختی آو بيوزلی له پخوا نه هم لا ډيره زياته شويده، په اقتصاد کې دولتی سکتور ضعيفه آو د هيواد اقتصاد اغلباً د خصوصی سکتور له خوا اداره کيږي، خصوصی سکتورد ډيرو محدودو پانګه والو آو يو څو نفرو جنګی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لاردانو په لاس کې ده چه هغوی ټول خپله پانګه په روبنایی پروژو کې مصرفوی چه ژر حاصل ور کړی آو ریسیکو (خطر) یې کم وی لکه بانکونه، د واده سالونونه، د هستوګنې بلاکونه، سوپر مارکټونه آو داسې نور. دولت آو خصوصی سکتور په بنسټیز (زیر بنایی) اقتصاد کې لکه د کارخانو، فابریکو، برقی بندونو، د اوسپنې پټلۍ، د اوبو لګولو آو کرنې په صنعتی آو مودرنیزه کولو یا نورو کې چه د هیواد اقتصادی بنسټ پیاوړی، خلکو ته د کار زمینه مساعده آو د وخت په تیریدو سره یې په ځان متکی کړي پانګونه نه ده کړې آو نه یې کوي په داسې حال کې چه امریکا آو غربی هیوادونه په ملیونونو ډالره له افغانستانه سره مرسته کوي آو همدا یې بهترین وخت وه چه د هیواد اقتصادی بنسټ پرې جوړ شوی وای آو له اقتصادی نظره یې په ځان د متکی کیدو زمینه برابره شوې وای .

په ټول هیواد کې یوه بله ډیره دردناکه موضوع د دولتی ځمکو آو دولتی مؤسساتو په اړوند ده، هغه په داسې شکل چه د هرې سیمې جهادی مشران آو قومندانان دولتی ځمکې غصبوي، هلته خپل انجنیران آو مهندسین ګماری چه ځمکې نمره بندی آو په خلکو یې توضیح کړی، هغوی په خپله دا صلاحیت لري چه د ملکیت سندونه خلکو ته ور کړي، د ځمکو پیسې په خپله واخلی آو په جیبونو کې یې واچوي.

مثلاً د کابل د ښارلویدیزې برخې ته پرتې ټولې دولتي ځمکې له کمپنۍ نه تر میدان ښاره پورې د افغانستان د اسلامی اتحاد په ګوند پورې مربوطې دي چه د دې ځمکو لُمړۍ برخه د دې ګوند په مشر «بروفیسور استاد عبد ا لرب رسول سیاف»، دوهمه برخه یې د قرغې د بند د شا و خوا ځمکو په شمول د دې ګوند په یوه قوماندان ملا عزت آو دریمه برخه یې په یوه بل قوماندان ملا شیر علم پورې اړه لري.

په کابل کې د امیر شیر علی خان د وخت لمړی ښار چه وروسته د نظامی مقاصدو د پاره استفاده ترې کیده (شیر پور) هم همدې رهبرانو آو قوماندانانو په ډیره بیرحمۍ سره په خپل منځ کې سره و ویشه آو هر یوه څو نمرې ځمکې پکې تر لاسه کړې آو داسې کورونه یې پکې جوړ کړي چه په هر یوه په لکونو ډالر مصرف شویدي (دا لُمړنی ښار ښایی د یوه موزیم په توګه ساتل شوی وی).

دې ډیرومحترمو رهبرانوآو قوماندانانو په عربی نړۍ آو مخصوصاً عربی اماراتو کې هم ښه پانګونه کړې آو ګلالي کورونه یې اخستي آو جوړ کړي دي، مګر له خلکو سره یو سوال ده چه په داسې یوه غریب هیواد کې لکه افغانستان چه اکثریت خلک یې د خوراک د پاره هم څه نه لري دې ډیرو محترمو رهبرانو آو قوماندانانو دا دومره پیسې له کومه کړې؟

د کابل شمال لوری ته د خیر خانې له کوتل نه آ خوا ځمکې اکثراً «مارشال صاحب» آو د نظار د شورا نورو قوماندانانوآو مشرانو نیولي دي. په نورو ولایاتو آو ښارونو کې هم مشابهه وضعه جریان لري آو ټولې دولتی ځمکې د قوماندان صاحبانو له خوا ویشل کیږي آو ښاروالی ګانې د هغو په مقابل کې کاملاً عاجزه، بې زوره آو بې صلاحیته دي.

په دې اواخرو کې د افغانستان په ځنو سیمو کې یو څه معادن کشف شوی دي چه مقدار یې هم زیات آو ارزښت یې هم د ملاحظې وړ دی مګر که خدای و کړی چه د هیواد په ملی اقتصاد آو د غریبو خلکو د ژوند د ښه کولود پاره ترې نه کار وا خستل شي آو دا هم د رهبرانو آو قوماندانانو له خوا غصب نه شي.

په هیواد کې بیکاری ډیره زیاته شویده، اکثره ځوانان آو د کار مستعد انسانان بیکاره دی، هغوی هیڅ هم نه لري، مجبوره دي یا غلا و کړي، یا ځوک ووژني، یا د دولت د مخالفینو په صفوفو کې تنظیم شي تر څو پیسې لاس ته را وړي آو یا هم د نا امیدۍ په حالت کې مسکراتو آو دخانیاتو ته مخه وکړي. د ډیرتأسف وړ خبره دا ده چه اکثراً د ښوونځي د سن هلکان آو انجونې ګدایی کوي، معلومه ده چه د هغوی والدین ډیر غریب دي په خپله هم څه نه لری آو د اولاد د ښوونځی مصارف هم نه شي ور کولی نو په خپل اولاد ګدایی کوی چه یو څه ور ته راوړي.

## اجتماعی (ټولنیزه) وضعه:

په ټولنیز ډګر کې ټولنه په ډیر واضح شکل په ډیرو دولتمنو(جنګی لاردانو، سودخورانو آو هغو دولتی کارمندانو چه د رشوت اخستلو پوره امکانات لري)، متوسطه طبقې (لوړ پولو دولتی کار کوونکو آو افسرانو آو منځ حاله زمیندارو) آو ډیرو فقیرو خلکو باندې ویشل شوې ده چه د دې دریم ټولنیز قشر تعداد زښته زیات آو د ټولنې ډیر غټ اکثریت جوړوي.
څرنګه چه د هیواد په اکثره ولایاتو کې جنګ روان دی چه له یوې خوا امنیت نه شته آو له بلې خوا د هیواد هغه موجود ډیر ابتدایی آو ساده فیوډالی (دهقانی) انفراستروکتور هم خرابه شوی دی نو اکثریت خلکو د ژوند د بقا، کار آو یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو د پاره پلازمینې کابل ته مخه کړې ده چه له همدې امله په کابل کې نفوس ډیر زیات شوی دی. که احتمالاً د کابل ښار د دوو یا درې ملیونو وګړو د ژوند د پاره محاسبه شوی وه نو اوس له پنځو نه تر اوو ملیونو خلک پکې اوسیږي.
په کابل کې د نقلیه وسایطو تعداد بیخی زیات شوی، سړکونه اکثراً خرابه آو د استفادې وړ نه دي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له يوې خوا دا وسايط اکثراً ډېر زاړه او په دوی کې ډېربې کيفيته د سون مواد سوځی د ښار هوا ډېره خرابه او د صحت د پاره مضره ده، د نقليه مخصوصاً وړو نقليه وسايطو تعداد په ښار کې دومره ډېر ده چه اکثراً داسې پيښيږي د يوه يا دوو کيلومترو فاصله په ۳۰- ٤۰ دقيقو کې طی شي، په ښار کې اکثراً د لارو بنديدل (شتاو) پيښيږي.
د امتيازاتو د اخستلو په وخت کې اکثره ملی اقليتونه قومي مسايل مخته کوي او ادعا کوي چه په هيواد کې امتيازات مثلاً د کابينې وزيران او نور نه بايد د اهليت او لياقت پر بنياد بلکه د قومونو د تناسب پر بنياد تعين شي او دوی غواړي چه قومی تمايزات زيات شي.
رشوت او اداری فساد ډېر زيات او عام شوي او د رشوت اخستل نور نو داسې کوم پټ يا بد کار نه ده بلکه د ټولنې د کلتور او فرهنګ جز ګرځيدلی. پخوا به که چا رشوت اخست نو يا به يې دا کار په پټه کاوه او يا د يوه دريم سړي په واسطه، اوس رشوت په ډېر علنی شکل اخستل کيږی اوکه دې په کومو هغو مؤسساتو يا دفاترو کې کار بند وي چه د رشوت د اخستلو ډېر زيات امکانات لري لکه ښار والی ګانې، محاکم اوداسې نور او حتی د يوه ډېر عادی او روا کار د پاره د رشوت د ورکولو تصميم و نه لرې نو ته بيا د همدې دفاترو د مامورينو په نظر کې يو ډېر بې کلتوره سړی بريښې په دې معنی چه ته لا تر اوسه هم د رشوت د ورکولو په ضرورت او کلتور نه يې پوهيدلی.
په ټولنه کې پارالمان او د پارالمان وکيلانو وضعه ډېره خرابه کړې ده، دا وکيلان چه قاطع اکثريت يې بيا هم هماغه جنګسالاران او جنګی لاردان دي ډېر لوړ معاشونه او نور ډېر غټ امتيازات تر لاسه کوي چه د دوی دا معاش او امتيازات په هيڅ صورت د افغانستان د فقيرې ټولنې له حالت او اقتصاد سره سمون نه لري. دا وکيلان غير له دې چه ټولنيز او دولتی نظم او دسپلين خراب او ګډ وډ کړي او خپلې شخصي استفادې و کړي بل هيڅ کار هم نه کوي او نه يې شي کولی. دوی درسته ورځ د وزيرانو او نورو لوړ پولو دولتی مامورينو دفاترو ته ور ځی د هغوی وخت نيسي او له کاره يې باسي، يا د خپلو ځانونو د پاره امتيازات تر لاسه کوي او يا خپلو مؤکلينو ته واسطه کيږي چه د آينده او بلې دورې د وکالت د پاره طرفداران پيدا کړي.
د ما په شخصی نظر د افغانستان غوندې يوه جنګ ځپلي او بير ته پاتې هيواد د پاره پارالمان هيڅ په کار هم نه ده، د پارالمان د وکيلانو د هرې مياشتې په معاش او نو رو مصارفو په هيواد کې يو يو ښوونځی جوړيدلی شي، له بلې خوا هيواد د جنګ په حالت کې ده هلته يو ډېر قوي مرکزی دولت په کار ده چه د بې امنيتی، فساد، رشوت او سوء استفادې ټول مظاهر له بينه بوځي او هغه چا چه په غير مشروع ډول يې ثروتونه پيدا کړي چه اکثريت يې همدا د پارالمان وکيلان دي بير ته ترې نه مسترد او مجازات کړي.

## کلتوری او فرهنګی وضعه:

کولی شو افغانستان يوه مولتی کلتورله ټولنه و بلو، هلته تقريباً د ټولو کلتورونو نښې نښانې شته: غربی کلتور، عربی کلتور، افغانی کلتور، ايرانی کلتور او حتی پنجابی کلتور.
خلک په اروپايی، افغانی او عربی لباسونو کې ليدل کيږي، په ميرمنو کې د يو قسم عربی حجاب اغوستل مود شوی دی، په کورونو کې د کوچ او چوکيو مود تقريباً کاملاً له منځه تللی ده بلکه اوږدې دوشکې مود شوي چه په همغه اوږدوالي او سورقالينې ور باندې اواريږي. نارينه اکثراً يو قسم سپينې خولی په سر کوي او په پلازمينه کې د لنګوټې رواج کم شوی، دولتی مامورين اکثراً په کميس او پرتوګ کې دفاترو ته ځي.
د جمعی اطلاعاتو د وسايلو(تلويزيون، راديو، جرايدو او اخبارونو) د خپرونو اکثره برخه په دری ژبه ده او په دولتی سطحه ټولنې اکثراً په همدې ژبه په مخکې بوول کيږي.
جوماتونه او دينی مؤسسات خو تقريباً ټول د عربو په نومونو مسمی دي او اوس حتی ځنې تعليمی مؤسسات هم د عربی شخصيتونو په نومونو مسمی کيږي.
په خلکو کې د حاجی صاحب او مخصوصاً بی بی حاجی القابو ډېر ارزښت موندلی، د دې القابو د تر لاسه کولو د پاره هر څوک کوشش کوي چه په هر شکل چه وي (قرض، سود، ګروي......) ٤۰۰۰-۵۰۰۰ دالره پيدا، سعودی عربستان ته لاړ شي، حج و کړی او دا القاب تر لاسه کړي. پخوا به په افغانی کورنيو کې مثلاً د پلار، مور، کاکا، ماما، لالا او داسې نور القاب والدينوآو نورو اقاربو ته د حرمت او احترام په توګه استعماليدل، اوس د دې ټولو القابو ځای حتی په کورنيو کې د ننه د حاجی صاحب او بی بی حاجی القابو نيولی دی. ځوی يا لور پلار ته يا مور ته خطاب نه کوي چه پلاره يا مورې بلکه حاجی صاحب، بی بی حاجی.
د کابل د ښار اکثره سرکونه او څلور لارې د جنګې لاردانو په نومونو نومول شوي دي مثلاً د ميکروريونو څلور لاری د عبد ا لحق په نامه او د عامې روغتيا څلور لاری د احمد شاه مسعود په نامه نومول شوي دي، هزاره ګانو څو موده مخکې په کابل کې جنجال جوړ کړی وه چه د ده بوريو څلور لاری دې د عبدالعلی مزاري په نامه و نومول شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## امنیتي آو نظامي حالت:

په تأسف سره د هیواد په اکثره مخصوصاً سهیلی آو ختیځو سیمو کې جنګ روان ده، وضعه ډیره نا کراره ده آو هره ورځ په لسګونو حتی کله په سلګونو ځمونږ بی ګناه هیواد وال د ښځو آو ماشومانو په شمول خپل ژوند له لاسه ور کوي، ښوونځي، کورونه، کښتونه، باغونه، د اوبو لګولو سیستمونه خرابیږي، ماشومان ټول بیسواده پاته کیږي، په خلکو کې خپل مینځیځه دښمنۍ د عقیدې، سیمې آو قوم پر بنیادونو زیاتیږي چه عواقب یی ډیر خطر ناک دي حتی د ځنو هیوادونو تاریخی تجربې ښیي چه دا رنګه اوږده کورني جنګونه اکثراً د هیوادونو د تجزیې آو ټوټه کیدلو سبب هم شوي دي. ځکه کله چه په یوه هیواد کې داسې کورنۍ بلا پیښه شي بیا نو معمولاً دباندنی دښمنان مخصوصاً ګاونډیان لمن ور ته وهي تر څو هلته جنګ دوامداره شي د دوی وسلې و پلورل شي، هغه بیچاره هیواد ضعیفه آو دوی په خپله بیا وړاندیز ور ته کوي چه بله هیڅ لاره نه شته سره بیل شئ، د دې جنګ وهلی هیواد خلک چه له ډیر اوږده جنګ آو ورور وژنې نه ډیر په عذاب شوي وي بیا نو د جنګ د ختم د پاره حتی په خپلو ټوټه کیدلو هم راضی شي.

ښایی یو شی هیر نه کړو چه په هر کورني جنګ کې غیر له د باندنیانو نه هغه کورني عناصر آو کړی چه د جنګ له طریقه یی ثروت، شهرت، اقتدارآو امتیازات تر لاسه کړی هم د جنګ په ادامه کې علاقه مند وي ځکه دوی پو هیږي چه د جنګ له ختمیدو آو د یوه قانونی دولت له راتلو سره دوی نه تنها خپل ټول په ناروا توګه په لاس راوړلي ثروتونه آو امتیازات له لاسه ورکوي بلکه د مجازاتو زیات امکان یې هم شته.

د افغانستان له خلکو سره ډیر لوی سوال دا ده چه طالبان دومره پیسې، سلاح، مهمات آو جنګی وسایل له کومه کوي چه دا ده کلونه کلونه جنګ مخکې ور باندې بیایی، کوم هیواد یا هیوادونه آو یا څوک په دوامداره شکل دا ټول دوی ته برابروي؟ د افغانستان خلک باور نه لري چه تنها د کوکنارو پیسې دې د دې ټولو جنګونو مصارف طالبانو ته پوره کړی شي.

په اکثره سیمو حتی په کابل کې ځان مرګي بریدونه تر سره کیږي چه تلفات بیا هم بیګناه آو ملکی وګړي دي.

<u>یادونه</u>: د جولای په ۲۰ نیټه په کابل کې د افغانستان د پاره یو نړیوال کنفرانس جوړ شو چه په سیاسی، اقتصادی آو نظامی ډګر کې یی افغانانو ته د زیاتو وعدو په ور کولو سره یو څه امیدواری ګانې هم ور کړې. د افغانستان دولت ژمنه و کړه چه تر ۲۰۱٤ کال پورې د هیواد امنیت د خپلو قوتونو په ذریعه تأمین آو د بهرنیو قواؤو د وتلو د پاره زمینه مساعده کړي.

بهرنیانو مخصوصاً د امریکې متحده ایالاتو له افغانستانه سره د زیاتې مالی مرستې ژمنه و کړه چه د دې مرستو ٥٠% به په خپله دافغانستان د دولت د پلان سره برابر مصرفیږي. مګر یو مهم ټکی دا ده چه تر هغو په هیواد کې د فساد، سؤ استفادې آو رشوت مخه و نه نیول شي آو دې شومو پدیدو ته خاتمه ور نه کړی شي زه فکر کوم چه بهرني کمکونه به هیڅ ځای هم و نه نیسي.

د فساد آو رشوت مخه په داسې شکل نیول کیږي چه:

- په لُمړۍ مرحله کې هغه کسانو چه د فساد، رشوت آو دولتی ملکیتونو د غصبولو له طریقه ثروت آو ملکیت پیدا کړی، ملکیتونه آو ثروت یې ظبط، په خپله افشا، له دولتی دستګاه نه لیرې آو مجازات شي تر څو په راتلونکې کې بیا څوک د داسې شومو اعمالو جرأت و نه کړي.
- د امریکې د متحده ایالاتو آو غربی نړۍ په مودل دې د اوسیدنې د حکومتی اداراتو له طریقه د هیواد د ټولو اتباعو دارایي بر رسي آو په اسنادو کې ثبت شي او دا اسناد دې هر کال همدې شخص ته ور کړل شي چه خپله نوې دارایی آو ملکیت پکې ثبت کړي.
- د اتباعو د ملکیتونو آو د دارایی د اسنادو (فورمو) د خانه پُری د صحت د کنترول د پاره دې یو ډیر با صلاحیته کمیسیون له ډیرو پاکو اشخاصونه چه ډیر ښه سوابق ولري (مثلاً چپیانو نه چه دوی معمولاً په خپله هیڅ ثروت آو دارایی نه لري آو له هغو اشخاصو سره چه د رشوت، چور آو چپاول آو په غیر قانونی آو ناروا توګه بډایي پیدا کوی ډیر ضدیت هم لري) و ټاکل شی. دا کمیسیون باید صرف د رییس جمهور ترمستقیم امر لاندې فعالیت و کړي آو له وزیر آو وکیل نه نیولې په هره سطحه چه چا خیانت یا سؤ استفاده و کړه آو یا یې رشوت واخست آناً دې له وظیفې نه د هغه د بر طرفۍ آو مجازاتو صلاحیت و لري.

په دې نړیوال کنفرانس کې له طالبانو سره د خبرو آو د حل د یوې لارې د پیدا کولو په ضرورت هم زیات تأکید و شو. له دې نړیوال کنفرانس سره جوخت د افغانستان آو پاکستان د دولتونو تر منځ یوه تجارتي آو ترانزیتی موافقه هم و شوه چه دواړه خواوې به یو بل ته ځنې تجارتي آسانتیاوې برابروي، اګر که پاکستان څو ځله داسې موافقه لیکونه امضا کړي خو عمل نه ور باندې کوي، خدای دې و کړی چه دا ځل خپلو تعهداتو ته وفادار پاته شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ